# د هپاتیتیس بی په باره کښې د پناه غوښتونکو لپاره کمکی پاڼه

د صحی معایناتو په چوکاټ کښې چه هپاتیتیس بی هم پکښې شامل وو د وینې د معایناتو په نتیجه کښې څه داسې علامې ښکاره سوې دی چه د هپاتیتیس بی په ناروغۍ اخته کیدلو خوا ته اشاره کوی. ستاسو د منطقې و صحت عامه ته د معایناتو د دنتیجو اطلاع ورکول کیږی او د پناهندگی د قانون د ۶۲ مادی پراساس دمهاجرت او پناه ورونکو فیډرالی ادارې او تاسو ته د ځایٔ ورکولو مسؤلې ادارې ته هم د معایناتو دنتیجو اطلاع ورکول کیږی.

چه دا څرگنده شی چه تاسې د هپاتیتیس بی په ناروغۍ اخته یاست باید نورې پراخې معاینې لکه د اینې معاینه د ږغ نه اوچت څپو (التړا ساونډ ویوز) سره او د وینو پراخې معاینې وسی. یوازې په دغه لار کیداې سی چه څرگنده شی چه تاسو ته د علاج ضرورت سته که نسته او څه ډول علاج مو وسی. مهربانی وکړۍ ژر د خپل هستوگنځۍ ډاکټر ته یا د خپلې خوښې یو بل ډاکټر ته ولاړ سی. د معاینې پاڼه تاسې کولاې سی چه د خپلې منطقې د ښاروالی د ادارې (سوسیال امت) یا د خپل ښار د خلکو سره مرسته کوونکی ادارې څخه واخلی.

<u>د هپاتیتیس بی ناروغي:</u>
هپاتیتیس بی د اینې یوه ویروسی ساری ناروغی ده. د څرگندیدلو جریان یې فرق کوی. څرگندې علامې یې د نس په لوړه حصه کښې یو ډول تکلیف، اشتها نه درلودل، د ناروغتیا احساس، قی کول، ستړیا او یا ژړی (ژړې سترکې، ژړ پوست، د بلغم ژړه غشأ) دی او دا هم کیداې سی چه هیڅ علامه یې څرگنده نشی. د هپاتیتیس بی په ۱۰٪ حالتو کښې د صحیح روغتیا امکان یې نسته او هپاتیتیس بی مزمن کیږی او د وخت د تیرېدو سره اینه غونجیږی (Zirrhose) او کله کله کیدایې سی چه د اینې سرطان (hepatozelluläres Karzinom) پیدا سی.

<u>په څه ډول انتقالیږی:</u>
د هپاتیتیس بی ویروس د یو سړی څخه و بل سړی ته د وینې یا د جنسی رابطې په لار او ډیر لږ د نورو بدنی مایعاتو په وسیله انتقالیږی.

جنسی رابطه: د هپاتیتیس بی انتقال زیادتر د جنسی رابطې په لار کیږی خو د کوندوم په استعمال کیدایې سی چه ددغه خطر مخ نیوی وسی.

هپاتیتیس بی لرونکی وینو سره تماس: د مثال په ډول یو زخم سره چه وینه ځنې بهیږی تماس، د بل جه سره په گډه د یوې پیچکاری (د مخدره موادولپاره)، ناخن گیر، د ږیرې خریلو چاړه، پاکی یا دږیرې خریلو ماشین او یا د غاښونو برس استعمالول.

د زیږیدلو په وخت کښې په هپاتیتیس بی اخته کیدل: که د کوچنی مور هپاتیتیس بی ولری نو د کوچنی د زیږیدلو په وخت کښې د مور د وینې سره د تماس په اثر په هپاتیتیس بی اخته کیږی.

خال (تاتو) وهل، اکوپونکتور (په چینی طب کښې د ستنو سره علاج) یا غوږ سوری کول: که د فنی اصولو یا د نظافت مراعت ونه سی نو هپاتیتیس بی انتقالیږی.

د علاج امکانات:
ستاسو د هیپاتیتیس بی د علاج حد د نورو پراخو معایناتو سره اړه لري او ستاسو ډاکټر به تاسو ته دا تشریح کړي

نور خلک په ناروغیو اخته کیدلو څخه د ساتلو لارښونه:

- په عادی اجتماعی ارتباطاتونو (لکه بل ته لاس ورکول یا ورسره خبرې کول) کښې د بل چا په ناروغی اخته کولو خطر نه سته.
- نورو ته وواياست چه د نورو د وینو یا ددوی د نورو بدنی مایعات سره د تماس په وخت کښې (لکه د لمړنۍ کمک په وخت، بلخصوص په وینو ډکو زخمو باندې پټی لګول) د یو پلا کاراخیستونکي دسکلي واغوندی.
- خپل جنسی شریک، شریکي ته د خپل احتمالی په هپاتیتیس بی اخته کیدلو څخه خبر ورکړی.
- د بل چا سره د بیدیدلو په وخت کښې د کوندوم څخه کار واخلی.
- ستاسو خپلوان او ستاسو د کورنۍ خلګ باید د هپاتیتیس بی واکسین شی.
- که تاسي په هپاتیتیس بی اخته یاست نو بل چا ته خپله وینه مه ورکوی.
- که نوی زیږیدلی چه موربې په هپاتیتیس بی اخته وی د زیږیدنې په وخت فوری واکسین شی نود هپاتیتیس بی د انتقال مخ نیوی کیږی.
- خپل علاج کوونکی ډاکتر او خپل غاښونو داکتر ته ستاسو په هپاتیتیس بی اخته کیدلو څخه خبر ورکړی.
- که صحی حالت مو خراب سو نو د خپلې منطقې د صحت عامه سره تماس ونیسی او په هپاتیتیس بی اخته کیدلو څخه خبر کړی.

ستاسو د منطقې صحت عامه تاسو ته په خوشالۍ صلاح او مشوره درکوی.

نور معلومات او نور کمکی پاڼې کولایې سی چه د انترنیت څخه حاصل کړی:

- د Bayerisches Landesamt für Gesundheit und Lebensmittelsicherheit (LGL) (د بایرن صحت او د غذائی موادو د سلامتی ایالتی دفتر) د www.lgl.bayern.de، لاندې

http://www.lgl.bayern.de/gesundheit/infektionsschutz/asylbewerber_gesundheit/index.htm
(دلته یواځې په جرمنی ژبه کښې شته).
- د Robert Koch-Institut www.rki.de لاندې http://www.rki.de/asylsuchende (دلته یواځې په جرمنی ژبه کښې شته).
- د Bundeszentrale für gesundheitliche Aufklärung (د صحی توضیحاتو فدرالی مرکز) د http://www.bzga.de لاندې http://www.infodienst.bzga.de/?id=Seite3233
http://www.infektionsschutz.de/erregersteckbriefe/ (دلته په جرنی، انګلیسی، عربی، ترکی، فرانسوی او په روسی ژبو کښې سته).
- د Centers for Disease Control and Prevention (CDC) (د ناروغۍ د کنټرول او مخ نیوی مرکزونه) د http://www.cdc.gov/vaccines/vpd-vac/hepb/default.htm لاندې (یواځې په انګلیسی او هسپانوی ژبه کښې شته).
- د World Health Organization (WHO) (د صحت نړیواله موسسه) د http://www.euro.who.int/en/health-topics/communicable-diseases/hepatitis لاندې (یواځې په انګلیسی ژبه کښې شته).